مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۲/۲۱

# غـــزل

خدايه ښرنګه معما ده او ښرنګه حليږي
په يو وخت مې زړه خندان وي هم ژړيږي

هغه وخت به بيا زه نه يم زه به مړ يم
چې له زړه مې د يار زړه ته لار جوړيږي

يار عنکير رقيب منکير دی قبر جوړ دی
د تير ژوند هر ډول کړه مې حسابيږي*

لمبه اور سيځلی نه يم په ژوندون کې
له تاوجن جانان مې زړه ولې سوځيږي؟

د ضمير لوبې جاري دي، لوی بازار دی
ټول يې معاف دي دلته هرڅه کيږي

ستا عجيبه عادت زه هم عجيبه کړم
تا چې وخاندل تر اوس مې زړه دربيږي

هغه مهال به ولې بيا ټپي نه کړم سمسوره!
چې چوری درسره ځي، باران وريږي

مارچ ۲۰۱۷

يادونه: د مرحوم رحمت الله درد صيب د يو بيت تر اثر لاندې. هغه بيت دا و:

هره شپه را نه د ورځي حساب غواړي
يو عنکر دی بل منکير زما په ذات کې

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځير و لولـئ